## د افغانستان اسلامي امارت

## لوړو زده کړو وزارت

## سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)

## طبي ټکنالوژي پوهنځی

# د طبي ټکنالوجي پوهنځي  ستراتیژیک پلان (۱۴۰۳-۱۴۰۷ لیږدیز لمریز)

**حمل - ثور ۱۴۰۳**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ


د پوهنځي د رئیس پیغام ........ 1
د کلیدي مفاهیمو پېژندنه ........ 2
د ستراتیژیک مدیریت لپاره کارول شوی چارچوب ........ 3
مقدمه (کلیات) ........ 5
د طبي ټکنالوژي پوهنځي لرلید ........ 8
د طبي ټکنالوژي پوهنځي ماموریت ........ 8
د طبي ټکنالوژي پوهنځي ارزښتونه ........ 8
د طبي ټکنالوژي پوهنځي ستراتیژیک اهداف: ........ 9
د مؤسسې لرلید ........ 10
د مؤسسې ماموریت ........ 10
د مؤسسې ارزښتونه ........ 10
د محیطي عواملو تحلیل ........ 13
د داخلي محیط عواملو تحلیل ........ 13
د بهرني محیط عواملو تحلیل ........ 16
د محیطي عواملو پرتله (مقایسه) ........ 18
د محیطي عواملو (داخلي او خارجې) مقایسه ........ 18
د (IE) ماتریکس ........ 18
د (SWOT) ماتریکس ........ 19
د ستراتیژیانو انتخاب ........ 23
لومړیتوب لرونکې ستراتیژیانې ........ 24
د ستراتیژیکو لومړیتوبونو تعین ........ 33
لنډمهاله اهداف ........ 39
د عمل برنامه (عملیاتي پلانونه ۱۴۰۷-۱۴۰۳) ........ 39
پنځه کلنه بودیجه ........ 71
د ستراتیژیانو اجراء ........ 72
د ستراتیژیانو ارزونه ........ 72

## د پوهنځي د رئیس پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

د څښتن تعالی په سپیڅلی نامه!

قال الله تبارک وتعالی فی القران الکریم. الیس الله بکاف عبده . الایه.

دا یو څرګند حقیقت دی چې په اداراتو کې د هر ډول اهدافو ټاکنه او هغې ته د رسیدو لپاره باید لیواله، ژمن، مسؤلیت منونکي، د سختو کړنو او فعالیتونو سرته رسولو لپاره مبارز اوسو، همدارنګه په ټاکل شوي مسیر، ځانته تګ لاره او کړنلاره جوړه کړو، څو خپل اوږد مهاله اهداف ترلاسه کړو، بې له شکه او الحمد الله زموږ مزل د یو ژمن او مسؤلیت منونکې کاري ټیم په توګه د اسلامي، قانوني او اداري لارښونو مطابق روان او پرمخ ځي. د ویاړ اوخوشحالۍ ځای دی چې د هیواد ځوان کهول مو د درې لسیزو جنګ برسیره د ټوپک پرځای قلم اخلي او د هیواد سوکالۍ او پرمختګ لپاره ملا تړي. داچې تعلیم اوتحصیل اسلامي فریضه ده ، نو په همدې توګه د ټولنې پرمختګ او ترقۍ لپاره یو لازمې فکتوربلل کیږي . د طبي ټکنالوژي پوهنځی په ۱۳۹۰ لمریز کال کې د لوړو زده کړو وزارت سره رسماً ثبت او را جستر شوې دی، چې دا مهال په خپل جوړښت کې د پوهنځي ریاست ، معاونیت ،عمومي ډیپارټمنټ، پاراکلینیک ډیپارټمنټ ، تدریسي مدیریت سربیره اته ګونې کمیټې لري، چې په یاد پوهنځي کې جمله (۲۴۹) تنه محصلین په زده کړو بوخت دي.د غوره خدماتو او تدریس کیفیت ښه والي په موخه د طبي ټکنالوژي پوهنځی د معیاري تدریسي چاپیریال، مجهزو تطبیقاتي لابراتوارونو، مجهز کتابتون ، معیاري کمپیوټر لب، مجربو او مسلکي استادانو ، پنځوس بستریز تدریسي روغتون لابراتوار څانګې سربیره د استادانو او محصلینو علمي څېړنو ترسره کولو په موخه معیاري او په طبي وسایلو سمبال څېړنیز مرکز لري چې د پوهنځي استادان او محصلین پکې عملاً د څېړنو په ترسره کولو بوخت دي.

داچې د اداري ثبات او تداوم د اهدافو پوري تړلي او د اهدافو ترلاسه کولو لپاره حتمې ده چې تحصیلي بنسټ د مسلکي او باتجربه بشري قوې او امکاناتو په لرلو سره د اهدافو ترلاسه کولو په موخه لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه ولري نو په همدې اساس د طبي ټکنالوژي پوهنځي د راتلونکو پنځه کلونو لپاره دغه پلان ترتیب کړ، چې پوهنځی به د دې پلان په تطبیق وشي کولای، په راتلونکو پنځو کلونو کې د لابراتوارونو ارتقاء، اعتبار اخستنې او نویو برنامو ایجاد سربیره په علمي، څېړنیزو چارو او اداري سستمونو کې د پام وړ مثبت تغیرات او پرمختګونه رامنځته کړي. له دې لارې به د پوهنځي د اهدافو تحقق د مؤسسې د اهدافو په تحقق کې مُمد او تکمیلوونکی ثابت شوی وي.

محمد جمیل وسیم

د طبي ټکنالوژي پوهنځي رئیس

## د کلیدي مفاهیمو پېژندنه

**برنامه**

برنامه د هغو فعالیتونو مجموعې ته ویل کیږي چې د معلوماتو پر بنسټ ټاکل شوي وي د خاصو اهدافو ترلاسه کولو لپاره ترسره کیږي.

**ستراتیژي**

ستراتیژي د هغو کړنلارو او طرحو مجموعي څخه عبارت ده چې اهدافو ته د رسیدو لپاره د یو ځانګړي فکر او کار څرنګوالی روښانه کوي.

**ستراتیژیکه برنامه**

ستراتیژیکه برنامه له هغو مراحلو څخه عبارت دی چې په هغې کې د تحصیلي ادارې عمومي اهداف د پوهنځیو او دیپارټمنټونو په کچه د تطبیق په موخه وصل او مرتبط شوي وي.

**لرلید**

هغه ذهني او تخیلي تصویر دی چې اداره يې په اوږد مهال او لېرې راتلونکي کې د خپل ځان په اړه انځوروي.

**ماموریت**

ماموریت د یوې تحصیلي ادارې د شتون داسې داعیې ته ویل کیږي چې له نورو څخه په متمایز ډول د خپل لرلید د تحقق لپاره کارول کیږي

**ارزښتونه**

ارزښتونه هغه اعتقادي اصولو ته ویل کیږي چې د هغې پر بنسټ تحصیلي اداره خپل مسیر ته حرکت ورکړي او په ټولو چارو کې یې په رعایت باور لري.

**د داخلي عواملو ماترکس (IFE)**

دا د حقایقو پربنسټ ترتیب شویو هغو ارقامو جدول دی چې په هغې کې د تحصیلي ادارې د قوت او ضعف برخې په کمي او کیفي توګه داسې ذکر کیږي چې د ادارې د داخلي حالت بیانګر اوسي. د دې ماترکس دوه عوامل د ادارې په کنټرول کې وي.

**د خارجي عواملو ماترکس (EFE)**

دا د حقایقو پربنسټ ترتیب شویو هغو ارقامو جدول دی چې په هغې کې د تحصیلي ادارې د بهرنیو چاپېریال اړوند عواملو (فرصتونه او ضعف برخې) په کمي او کیفي توګه داسې ذکر کیږي چې د ادارې د داخلي حالت بیانګر اوسي. د دې ماترکس دوه عوامل د ادارې په کنټرول کې وي.

### داخلي او خارجي ماترکس (IE)

د (IE) ماترکس د داخلي محیط او بهرني محیط اړوندو عواملو د مقایسې داسې یوه طریقه ده چې له مخې یې تحصیلي اداره کولای شي خپل ځان ته ستراتیژیک راتلونکی تعین او غوره کړي.

### سوات (SWOT) ماترکس

دا هغه ماترکس دی چې د دې له لارې تحصیلي اداره کولای شي د داخلي محیط او بهرني محیط اړوند عوامل په متوازن ډول مطالعه او معلوم کړي چې د عواملو خپل منځي پرتلې او تحلیل څخه د ستراتیژۍ په تطبیق کې څه ډول ګټه پورته کړي.

### د قوت برخې

دا هغه ځانګړنې او سرچینې دي چې تحصیلي اداره یې نظر نورو ادارو ته په امتیازي بهتر ډول لري او ګټه ترې پورته کوي.

### د ضعف برخې

دا هغه ځانګړنې او سرچینې دي چې تحصیلي اداره یې نظر نورو ادارو ته په بدتر ډول او کمه اندازه لري او د خپلو خدماتو او چارو ښه ترسراوي پر وړاندې محدودیت ګڼل کیږي.

### فرصتونه

ټولې هغه بهرنۍ پېښې چې د تحصیلي ادارې لپاره ګټه رسوونکي وې د فرصتونو په نوم یادیږي. دا هغه عوامل دي چې د هغې کنترول د ادارې په واک کې نه وي او په بهرني محیط کې د اقتصادي، ټولنیزو، سیاسي او داسې نورو تغیراتو له کبله رامنځته کیږي.


### تهدیدات

ټولې هغه بهرنۍ پېښې چې د تحصیلي ادارې لپاره زیان رسوونکي وي د تهدیداتو په نوم یادیږي. دا هغه عوامل دي چې د هغې کنترول د ادارې په واک کې نه وي او په بهرني محیط کې د اقتصادي، ټولنیزو، سیاسي او داسې نورو تغیراتو له کبله رامنځته کیږي.

## د ستراتیژیک مدیریت لپاره کارول شوی چارچوب

د طبي ټکنالوژي پوهنځي د پلان او پالیسۍ کمېټې د سپین غر لوړو زده مؤسسې د پلان او پالیسۍ او لوړو زده کړو وزارت د تقنین ریاست هغه لارښود (رهنمود) مطابق چې د ستراتیژیک پلان جوړونې لپاره ترتیب او تکثیر شوی دی، له مخې د پوهنځي لپاره لاندې پیشنهادي ماډل غوره کړی او کارولی دی:

**د ستراتیژیک مدیریت کارول شوی ماډل**



## ســـريزه (مقدمه)

د سپین غرلوړو زده کړو مؤسسې طبي ټکنالوژي پوهنځی په (۱۵/حمل/۱۳۹۰) نېټه د لوړو زده کړو وزارت سره رسماً ثبت او تأسیس شو. دې پوهنځي په پیل کې د پاراکلینیک ډیپاَرټمنټ درلود چې د پوهنځي رئیس په پیشنهاد د پوهنځي او مؤسسې علمي شورا د تائید وروسته د عمومي(کلینیک) ډیپارټمنټ یې په تشکیل کې اضافه شو. د یاد پوهنځي ټولې تدریسي، اداري او څېړنیزې چارې د پوهنځي د رئیس، مرستیال، عمومي ډیپارټمنټ، پارا کلېنیک ډیپارټمنټ او تدریسي مدیریت ترڅنګ اته ګونو (کیفیت لوړاوي ، تحصیلي نصاب، علمي څېړنو، ازموېنو او نتایجو ، نظم او دسپلین ، فرهنګي چارو، برېښنایي زده کړو او پلان او پالیسۍ) کمېټو له لورې پرمخ وړل کیږي. یاد پوهنځی د طبي ټکنالوژي په برخه کې د کادري او باتجربه تدریسي او اداري پرسونل، د مسلکي مضامینو اړوند یوولس تطبیقاتي لابراتوارونو، د عملي زده کړو لپاره معیاري تدریسي روغتون، عصري تدریسي خونو او نورو ګټو اسانتیاوو په لرلو سره په مسلکي، اخلاقي، علمي او معیاري ډول محصلین روزي او د روغتیایي خدماتو په موخه یې ټولنې ته وړاندې کوي.

څرنګه چې د یوې ټولنې د ودې او پرمختګ لپاره تعلیم، تحصیل ، د پوهې په برخه کې مدیریت او رهبري اړینه ده تر څو د یادې ټولنې وګړي پرته له کومو ستونزو خپل ژوند ته په داسې توګه دوام ورکړي چې د ژوند حقوق یې تـاَمین وي، او پـه اداري ژوند کې هم خپلې کړنې په اغېزمن او مؤثر ډول ترسره کړي تر څو ټولنې ته مسـلکي روزل شـوي کادرونـه وړانـدې کړي،نو د دغه ټولو اهدافو تر لاسه کولو او مقاصدو ته د رسیدو لپاره په ټولنه کې د علمي مراکزو شتون او رول بـا آهمیتـه دی،پوهنتونونه او تحصلي مؤسسې هغه وخت بریالۍ کیږي چې په ګروپي ډول د مشورو او جلسو له لارې د اهدافو ټاکنه وکړي بیا د همدې کړنلارې څخه په ګټه اخیستنه د ټاکل شوو اهدافو تر لاسه کولو لپاره د حقیقي معلوماتو پر مټ پلانونه جوړ کړي.

د طبي ټکنالوژي پوهنځی د کیفیت لوړاوې معیارونو او د لوړو زده کړو وزارت قوانینو او پالیسـیانو د تطبیـق پـه موخـه پـه تشکلیل کې د پلان او پالیسۍ کمېټه لري څو د پوهنځي د پرمختګ ، تداوم ، بهبود او چارو غـوره تنظیـم پـه موخـه اوږد مهاله او لنډ مهاله پلانونه، پالیسیانې او طرز العملونه جوړ کړي چې د همدې چارې ترسراوي پـه موخـه پـلان او پالیسـۍ کمیټې د نوي (۱۴۰۳-۱۴۰۷ ل.م)ستراتیژیک پلان جوړوني لپاره مختلفې غونډې تر سره کړي، چـې د پـوهنځي لرلیـد ، ماموریت ، اهداف او ارزښتونه جوړ او په اړوند کمېټه او شورا ګانو کې تائید شو، د داخلي او بهرني محیط پوښتنلیکونه یې ډیزاین او د پوهنځي داخلي محیط کې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو پرمټ ډک او مختلیفو سـکتوري ادارو تـه یې هم په رسمي ډول د مؤسسې ریاست له لورې ولیږل شول،اوبېرته تر لاسه شول،بیا دغه پوښتنلیکونه دکمیټې د غړو پر مټ تحلیل شول،چې د پوهنځي داخل محیط(قوت/ضعف) ته په کتنه د راټول شوو معلوماتو تحلیل او پـه بیرونـې محـیط کې فرصتونه اوګواښونه په نښه او تحلیل شو، چې د همدې تحلیل مطابق ستراتیژي وټاکل شوه.

د پوهنځي د ستراتيژيک پلان لومړي برخه کې د پوهنځي رئيس  پيغام،  مقدمه ،لرليد، ماموريت،ارزښتونه او ستراتيژيک اهداف ځاى پر ځاى شويدى، په دوهمه برخه کې د پوهنځي د حکومتدارى ،اکاډميک پروګرام اوزيربيناو ته لنډه کتنه شويده،د داخلي اوخارجي عواملو په اساس د SWOT تحليل شويدى،د اهميت له مخې نقاطو لپاره دوزن ټاکنه هم شويده او مقايسوى جدول يې ترتيب شوى دى،په دريمه برخه کې د مؤسسې ستراتيژيک پلان څخه لومړيتوبونه غوره شويدي او دهغه په کتنه د پوهنځي لومړيتوبونه هم په نښه شويدي،د ستراتيژيک پلان سره ضميمه د ۱۴۰۳ کال لپاره علمياتي/تطبيقي پلان هم ترتيب شوى، چې د ډيپارټمنټونو او کميټو لومړيتوبونه په بر کې نيسي، په اخر کې د اهدافو لاسته راوړولو لپاره منابعو تخمين شويدى ، د ستراتيژيکو پروګرامونو څارنه او ارزونه ذکرشويده، لنډه داچې د دې پلان په جوړولو کې د ستراتيژيک پلان درې مراحل ( پلان د تدوين مرحله، پلان دتطبيق مرحله، پلان د ارزونې مرحله) او عمومي ماډل په نظر کې نيول شويدى. پلان د بشپړيدو او کمېټه کې د پروتوکول وروسته د تائيد لپاره د پوهنځي  علمي شورا ته وړاندې شو، چې د کتنې وروسته د رايو په اکثريت سره په (۱۴۰۳/ثور/ ۲٦)نېټه جلسه کې تائيد او په (۰۲)ګڼه پروتوکول کې ثبت شوى، د مؤسسې علمي شورا کې د تائيد په موخه رسماً واستول شو ، چې د تائيد وروسته ،د دغه پلان څو کاپي  اړونده برخو سره د تطبيق په موخه شريکې شوې .د پوهنځي رهبرى هيله لري، چې  د ډيپارټمنتونو آمرين،کميټو مسؤلين، اداري او تدريسي ټيم کوم چې د دې پلان جوړونې په برخه کې نه ستړې کيدونکي هلې ځلې کړيدي ، د تطبيق اوټاکل شوو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره د پوهنځي رياست سره په همغږى، ژمنتيا او ريښتينولى کار وکړي.

د پوهنځي د محصلينو اړوند معلومات په لاندې ډول دي:


| ګڼه | پوهنځی | ديپارتمنت | برحاله محصلينو شمېر | فارغانو شمېر |
|---|---|---|---|---|
| 3 | طبي ټکنالوژي | عمومي | ۲۴۹ | ۵۱ |
| | جمله | | ۲۴۹ | ۵۱ |

**د استادانو علمي څېړنې او تألیفات**

د ۱۴۰۲ لمريز کال تر پاى پورې د استادانو لاندې شمېر ليکنې او څېړنې چاپ شوي دي:

- درسي کتابونه (۲)
- په بهرنۍ ژبه نړيوالو ژورنالونو کې نشر شوې مقالې (۱۲)
- په ملي ژبه نشر شوې مقالې (۱)
- سپين غر د طبي علومو ژورنال کې د نشر په موخه ليږل شوي څېړنيزې/مرورې مقالې(۴)
- هغه څېړنې چې د جريان په حال کې دي(۲)

## د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي اداري جوړښت او تشکیل




د طبي ټکنالوژۍ پوهنځی په تشکیل کې، پوهنځي رئیس ، مرستیال، عمومي ډیپآرټمنټ او پاراکلینیک ډیپارټمنټ آمریتونه او د تدریسي مدیریت برعلاوه، ټولې اړینې کمېټې شتون لري.

## زیربناء او اسانتیاوې

پوهنځي د ۱۴۰۲ کال په پای کې د لاندې اسانتیاو لرونکي دي:

- د پوهنځي په ملکیت کې خپل تعمیر او ودانۍ
- ۸ لابرتوارونه
- مجهز تدریسي روغتون(لابراتوار ځانګه)
- څېړنیز مرکز
- کتابتون
- سټوډیو
- مجهز اداري دفاتر او درسي خونې
- کمپیوټر لیب
- کانتین
- مسجد

## د پخوانیو ستراتیژیانو د موفقیت اندازه

د پخواني ستراتیژیک پلان (۱۴۰۰-۱۴۰۲) د ستراتیژیانو له جملې څخه لاندې یې په غوره توګه تطبیق شوي دي:

- د مؤسسې اعتبار اخستنې دویمې مرحلې طی کیدل
- د لابرتواري وسایلو شمیر کې زیاتوالي
- د سکتوري اداراتو سره د ترسره شویو توامیتونو تطبیق
- د مدیریتي چارو لپاره د (ERP) سیستم پېر او تطبیق
- د درسي اسانتیاو بهتروالی او کیفیت لوړاوې
- د علمي څېړنو دودول او ظرفیت لوړونه
- د کاري اسانتیاو بهتروالی
- د پوهنځي/مؤسسې د خپلې ودانۍ اعمار
- په عوایدو او مالي سرچینو کې د پام وړ زیاتوالی(جذب زیاتوالی)
- د څېړنیز مرکز او سټوډیو ایجاد

### د پخوانیو ستراتیژیانو د عدم موفقیت عوامل

د پخواني ستراتیژیک پلان (۱۴۰۰-۱۴۰۲) د ستراتیژیانو د نه تطبیق او عدم تحقق عوامل په لاندې توگه دي:

- د مؤسسې له خوا د نړیوالو اړیکو لپاره زمینه سازي نه ترسره کیدل
- د اداري فساد سره مبارزي په اړه د برنامو کموالی
- د مؤسسې له لورې د استادانو ماسټرۍ برنامو لپاره د استولو زمینه سازي نه ده شوي
- د مؤسسې له لورې د محصلینو او استادانو علمي سفرونو لپاره زمینه سازي نه ده شوي
- د اداري کار کوونکو او استادانو ظرفیت لوړونې ته څومره چې پکار وه رسیدگي نده شوې
- د مؤسسې له لورې په نړیوالو کنفرانسونو کې د پوهنځي اړوند استادانو دګډون زمینه نه ده ترسره شوي

### د طبي ټکنالوژي پوهنځي لرليد

د طبي ټکنالوژي پوهنځی غواړي چې د غوره نظري-عملي تدریس او علمي څېړنو له لارې ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کړي چې د ناروغیو تشخیص یې د هیواد او سیمې په کچه د باور وړ وي.

### د طبي ټکنالوژي پوهنځي ماموريت

طبي ټکنالوژي پوهنځی د معیاري تحصیلي نصاب، غوره تدریس، څېړنو، مجهزو لابرتوارونو او مسلکي استادانو پرمټ داسې طبي ټکنالوجستان روزي، چې په ملي او سیمه ایزه کچه د طبي لابراتوار تشخیصیه اړتیاوو پوره کولو وړتیا لري.

### د طبي ټکنالوژي پوهنځي ارزښتـونه

#### مسؤليت پيژندنه

د طبي ټکنالوژي پوهنځي ټول کار کوونکي او محصلین مکلف دي چې د خپلو مسؤولیتونو په محـدوده کـې پـوهنځي څخـه غوښتنې وکړي یا یې غوښتونو ته رسیدگي وکړي.

#### مسلكيتوب

د طبي تکنالوژي پوهنځی په طبي لابراتوار کې د مسلکیتوب په ارزښت ټینګار کوي چې په دې کې د لابراتوار د پروتوکولونو او معیارونو پیروي کول، او د درناوي او بشپړتیا کلتور ته وده ورکول شامل دي.

#### ديني، ملي او اخلاقي شعايرو ته درناوی

د پوهنځي ټول کار کوونکي، بهرني کاري شریکـان او محصـلین مکلـف دي چـې پـه رسـمي چـارو کـې د افغانسـتان نافـذه قوانینو، اسلامي او مالي ارزښتونو او شعایرو ته درناوی ولري.

## د کیفیت تضمین او لوړاوی

د طبي ټکنالوژي پوهنځی په خپلو ټولو اداري، تدریسي او څېړنیزو چارو کې د کیفیت تضمین او لوړونې ته په ډېر ارزښت قایل دی

## څېړنه او د تدریس د کیفیت لوړاوی

طبي ټکنالوژي پوهنځی د تدریس او څېړنو په برخو کې د استادانو او محصلینو څېړنې او تدریس کیفیت ته ډېره پاملرنه کوي او باور لري چې د څېړنې او غوره تدریس پر مټ استادان او محصلین د پوهنځي سره د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته کولای شي.

## عملي زده کړې او مهارتونه

د طبي ټکنالوژي پوهنځی په ټولو اکاډمیکو چارو کې د استادانو،کارکونکو او محصلینو عملي زده کړو او مهارتونو ته ځانګړی ارزښت ورکوي او باور لري چې د کاري او زده کړیزو مهارتونو له لارې به کار کوونکي او محصلین په دې وتوانیږي چې د اداري سره د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

## د طبي ټکنالوژي پوهنځي ستراتیژیک اهداف:

1. د پوهنځي محصلینو ته د معیاري زده کړو لپاره د اړینو اسانتیاوې تهیه
2. د لابراتواري او روغتوني عملي کارونو له لارې د محصلینو مهارتونو لوړونه
3. د طبي ټکنالوژي په برخه کې د علمي څېړنو او نوښتونو ترویج
4. د محصلینو ترمنځ د مسلکي اخلاقو او سلوکیاتو رعایت او پیاوړتیا
5. اړوندو کاري شریکانو سره د متقابلو اړیکو پراختیا او ساتنه
6. د ټولنې د اړتیاو پر بنسټ د نویو ډیپارټمنټونو ایجاد
7. د پوهنځي اړوندو څانګو د تحصیلي نصابونو تدوین، تطبیق، تجدید او بیا کتنه
8. د کیفیت د تضمین او لوړاوي معیارونو تطبیق او ساتنه
9. په تدریسي، زده کړیزو او کاري پروسو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ کارَونه
10. د پوهنځي غیر ضروري لګښتونو کموالی او عوایدو زیاتوالی
11. په علمي، تدریسي او څېړنیزو چارو کې د شفافیت او عدالت تأمین
12. د ټولنې اړتیاو پر بنسټ د فوق لیسانس برنامو ایجاد

### د مؤسسې لرلید

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د طبي لوړو زده کړو په برخه کې د تدریس، نوښتونو او څېړنو له لارې په ملي او سیمه ئیزه کچه د غوره علمي بنسټ په توګه وپېژندل شي.

### د مؤسسې ماموریت

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د معیاري تحصیلي نصاب، مجهزو لابراتوارونو او تدریسي روغتون، با تجربه او مسلکي استادانو پر مټ د تدریس او څېړنو له لارې ټولنې ته داسې کادرونه وړاندې کوي چې د عامې روغتیا سکتور اړتیاوې پوره کولای شي.

د مؤسسې د لرلید او ماموریت پورته ذکر شوي متنونه د لوړو زده کړو وزارت د پلان پالیسۍ او تقنین ریاست لخوا د (۱٦۱۷/۱۷۷۹) ګڼه (۱۴۰۲/۱۱/۰۴) نېټه مکتوب له مخې تائید شوي دي.

### د مؤسسې ارزښتونه

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) په خپلو ټولو تحصیلي، اداري، مالي او حسابي، څېړنیزو او عامه اړیکو اړوندو چارو کې په لاندې اصولو باور لري او ارزښت ورکوي:

#### مسؤولیت پېژندنه

د مؤسسې هر اداري کار کوونکی، استاد، محصل او بهرني کاري شریکان په دې مکلف دي چې د خپلو مسؤولیتونو په محدوده کې مؤسسه کې اړوندې چارې داسې ترسره کړي چې د کړنو د پایلو عواقب پکې په پام کې نیول شوې وي او د وظیفوي تداخل سبب نه ګرځي.

#### دیني او ملي شعایرو ته درناوی

مؤسسه د اسلامي شریعت احکامو، اوامرو او اصولو ته ارزښت ورکوي. همدا راز، د مؤسسې  اداري کار کوونکي، استادان، محصلین او کاري شریکان د افغانستان ملي شعایرو ته په درناوي مکلف دي.

#### د کیفیت تضمین او لوړاوی

مؤسسه په خپلو ټولو خدماتو او چارو کې د کیفیت د تضمین او لوړونې لپاره ډېره پاملرنه کوي او په هر فعالیت کې اهداف، ترتیب، کړنلارې، تأثیراتو او پایلو ته ارزښت ورکوي.

#### شفافیت او ځواب ورکونه

مؤسسه په داخلي او بهرنیو چارو کې د خدماتو او کړنو په تړاو بشپړ شفافیت او ځواب ورکولو باندې باور لري او په دې برخه کې د اړوندو اصولو تطبیق او رعایت ته ارزښت ورکوي.

#### عملي زده کړې او مهارتونه

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د اداري چارو، تدریس او تحقیق په برخو کې د کار کوونکو او محصلینو عملي زده کړو او مهارتونو ته ځانګړی ارزښت ورکوي او باور لري چې د کاري او زده کړیزو مهارتونو له لارې کار کوونکي او محصلین کولای شي اداري سره د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

### د مؤسسې ستراتیژیک اهداف

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیکو اهدافو په درجه بندۍ کې سلسله مراتب په پام کې نیولي دي. دې اداري د خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان د تدوین پر مهال له (A-Z Approach) څخه کار اخستنی دی. په دې توګه باید د تحصیلي اداري اهداف د لوړو زده کړو وزارت لپاره تکمیلوونکي وي، د پوهنځیو اهداف باید د مؤسسې د اهدافو لپاره او د دیپارټمنت اهداف د پوهنځیو لپاره تکمیلوونکي وي. ټول استادان او اداري مسؤولین باید په انفرادي توګه د ډیپارټمنټونو، پوهنځیو او مؤسسې اهدافو ترلاسه کولو لپاره په خپلو برخو کې اړوند فعالیتونه ترسره کړي تر څو د اداري اهداف تحقق ومومي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتیژیک پلان د تدوین اصلي کمېټې د دې ستراتیژیک پلان د ترتیب پر مهال د د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیکو اهدافو په پام کې نیولو سره د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۳-۱۴۰۷ هجري شمسي) پورې لاندې ستراتیژیک اهداف ټاکلي دي:

1. د تحصیلي نصابونو تجدید، تطبیق او څارنه
2. د اداري او اکاډمیکو کار کوونکو ظرفیت لوړونه
3. د نویو علمي برنامو ایجاد
4. د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه
5. د مؤسسې او تدریسي روغتون ودانۍ او اسانتیاو پراختیا
6. د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه
7. د معلوماتي ټکنالوژۍ پراختیا او کارونه
8. د عایداتو او مالي سرچینو مدیریت
9. د علمي څېړنو او تألیفاتو پرمختیا او پراختیا
10. په ملي او نړیواله کچه علمي فعالیتونو کې ونډه اخستنه

د مؤسسې ستراتیژیکو اهدافو په تعُین او ټاکلو کې له پورته څخه کښته خوا ته کړنلاره (A-Z Approach) باندې عمل شوی دی. د لوړو زده کړو وزارت لومړیتوبونو او اهدافو پر بنسټ د مؤسسې اهداف ټاکل شوي دي، د مؤسسې اهدافو پر بنسټ د پوهنځیو او په همدې توګه د لاندې (Flow Chart/Diagram) مطابق د پوهنځیو اهدافو پر بنسټ د ډیپارټمنټونو اهداف ټاکل شوي دي.

## د اهدافو د درجه بندۍ سلسله مراتب (A-Z Approach)

**د لوړو زده کړو وزارت په کچه**

د وزارت لرلید

د وزارت ماموریت

ستراتېژیک پروګرامونه

له ۵ – ۱۰ کالونو اصلي موخې

**د مؤسسې په کچه**

د مؤسسې لرلید او ماموریت

د مؤسسې ستراتېژیک پلان

له ۳ – ۵ کالونو اصلي موخې

**د پوهنځیو په کچه**

تخنیکي پروګرام

له ۳ – ۵ کالونو اصلي موخې

**د ډیپارټمنټ په کچه**

کاري پلان

د یو کال لنډ مهاله اهداف

**په انفرادي کچه**

کاري پلان

لنډ مهاله اهداف

## د محیطي عواملو تحلیل

څرنګه چې تحصیلي ادارې د داخلي چاپیریال او بهرني چاپیریال د عواملو د اغېز لاندې وي. نو په همدې اساس د ادارې په داخلي چاپیریال کې د تحصیلي ادارو لپاره د داخلي او بهرني چاپیریالونو مجموعه ډېره مهمه وي. د تحصیلي ادارو په داخلي چاپیریال کې ادارې ته اړینه وي چې د خپل قوت او ضعف برخې وپېژني. همدا راز، په بهرني چاپیریال کې د فرصتونو او تهدیداتو پېژندل هم د تحصیلي ادارو د خدماتو د تداوم، ښه والي او پراختیا لپاره اړین ګڼل کېږي.

په دې ستراتیژیک پلان کې د طبي ټکنالوژي پوهنځي د خپلو استادانو، اداري کار کوونکو، برحاله محصلینو او فارغانو پر مټ د هغه پوښتنلیک پواسطه چې د سپین غر لوړو زده کړو مؤسسې د پلان پالیسۍ کمېټې او ریاست لخوا ترتیب شوی دی، د فعالیت حوزې او برنامو نوعیت ته په کتو له اړینو تغیراتو وروسته د نظر پوښتنې په موخه کارولی دی.

همدا راز، د پوهنځي بهرني چاپیریال مطالعه کولو په موخه د اړوندو ذي نفعانو، بهرنیو ادارو او افرادو څخه نظرونه ترلاسه شوي دي تر څو په بهرني محیط کې د پوهنځي لپاره شته فرصتونه او تهدیدات په ګوته شي. دا چې له یادو فرصتونو څخه به څرنګه ګټه پورته کېږي او د تهدیداتو مخنیوي به څه ډول صورت نیسي، په سوات مترکس کې ذکر شوي دي.

د پورته ذکر شویو ستراتیژیکو اهدافو په پام کې نیولو سره طبي ټکنالوژي پوهنځي لاندې ثابت دوامدار اهداف ټاکلي دي:

1. په طبي ټکنالوژي برخه کې د نوښتونو، څېړنیزو پروژو او برنامو پراختیا او ترویج
2. د معیاري نظري او عملي تدریس او غوره کاري چاپیریال لپاره د اسانتیاو ایجاد، ساتنه او پراختیا
3. د پوهنځي تحصیلي نصاب تدوین، تطبیق، بیا کتنه او ارزونه
4. د سپین غر لوړو زده کړو مؤسسې او نورو اړوندو واکمنو ادارو قوانینو، لوایحو،پالیسیو او طرزالعملونو تطبیق
5. په تدریس، تحقیق او کاري ساحو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ کارونه
6. د کیفیت لوړاوي معیارونو تطبیق او څآرنه
7. د پوهنځي کارکوونکو، استادانو او محصلینو مسلکي پوهې او مهارتونو لوړاوی
8. دلوړو زده کړو وزارت لومړیتوبونو او کار بازار اړتیاو پر بنسټ د څانګو(ډیپارټمنټونو) ایجاد
9. د داخلي او بهرنیو بنسټونو سره د متقابلو کاري اړیکو ایجاد، ساتنه او پراختیا
10. په زده کړیزو او روزنیزو پروسو کې د محصلینو اسلامي روحیې او طبي اخلاقو ته پاملرنه

## د داخلي محیط عواملو تحلیل

طبي ټکنالوژي پوهنځي د داخلي چاپیریال مطالعه کولو په موخه د پوښتنلیکونو او مرکو له لارې د پوهنځي د اداري کار کوونکو او استادانو څخه د قوت او ضعف برخو معلوملو په موخه نظرونه ترلاسه کړي دي. په یادو نظرونو کې له ۳۷ څخه ډېر داسې موارد پوښتل شوي دي چې د هغې له مخې د پوهنځي د ضعف او قوت برخې څرګندیږي. په پوهنځي کې هغه

کار کوونکي چې ډېره موده یې کار کړی دی او د پلانونو په برخه کې ځانګړې تجربه لري، دا ډول لوړ رتبه او منځ رتبه کار کوونکو سره ځانګړي جلسات ترسره شوي دي تر څو تخصصي نظرونه یې ترلاسه شي.

د پوهنځي د ستراتیژیک پلان د تدوین (پلان او پالیسۍ) فرعي کمېټې لخوا د ټولو ترلاسه شویو ځوابونو (Data Entry) ترسره شوې ده او تحلیلي راپور یې چمتو شوی دی. د یاد تحلیلي راپور پر بنسټ د کمېټې لخوا د پوهنځي د هغه برخې د داخلي محیط مطالعه کولو په ماتریکس کې ځای پر ځای شوي دي چې د هغې ساتنه پوهنځي لپاره لومړیتوب لري او د پوهنځي د کار کوونکو او محصلینو لپاره ډېر تأثیر لرونکي دي. همدا راز، هغه برخې او موارد چې د هغې اصلاح او رفع کول د پوهنځي د کار کوونکو او محصلینو لپاره ډېر اړین او لومړیتوب لرونکي دي، د داخلي محیط عواملو په ماترکس کې ځای پر ځای شوي دي.

د دې لپاره چې پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې د ضعف برخې اصلاح کړي تر څو د داخلي چاپیریال د تغیر ښه والي له کبله د دې ماتریکس نمرې زیاتې شي، دا اداره ژمنه ده چې د ستراتیژیک پلان کلنیو تطبیقي پلانونو له لارې به د ټاکلو اهدافو ترلاسه کولو په موخه ټول هغه فعالیتونه ترسره کړي چې د قوت برخو د ساتنې او زیاتوالي؛ د ضعف برخو د کموالي او نه تکرار سبب شي.

د داخلي محیط په مطالعه کولو کې د پوهنځي رهبري او کاري ډله (ټیم)، کادري غړیو تحصیلي کچه او علمي رتبې، د پوهنځي جوړښت او تشکیلات، کاري پروسیجرونه او جریانونه، د ودانیو او اسانتیاو برخې، محصلینو ته خدمات، برحاله علمي برنامې او ډیپارټمنټونو شمېر، د معیارونو او تقنیني سندونو د تطبیق کچه، د تدریسي روغتون لابراتوار برخې حالت او امکانات... او داسې نورو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

د داخلي محیط په ماترکس کې لوی قوت ته ۴، کوچني قوت ته ۳، لوی ضعف ته ۱ او کوچني ضعف ته ۲ نمرې ورکړل شوي دي. له دې کبله چې په یوه اداره کې د قوت ټولې برخې او ساحې او همدا راز د ضعف ټولې برخې او ساحې یو شان حالت کې نه وي او ارزښت یې توپیر لري، د پوهنځي عیني حالت (ترلاسه شویو نظرونو) پربنسټ د هر قوت او ضعف لپاره مناسب ارزښت ذکر شوی دی. د ارزښت او امتیاز نمرې ضرب شوي دي او فرعي جمله یې د داخلي محیط عامل په مقابل کې ذکر شوې ده. د وروستي کالم مجموعه د ټول ماترکس جمله نمرې جوړوي.

څرنګه چې د پوهنځي د داخلي چاپیریال مطالعه کولو ماتریکس د قوت او ضعف له نظره د پوهنځي اوسنی حالت تمثیلوي، د راتلونکي لپاره د قوت برخو ساتنې او زیاتوالي؛ د ضعف برخو په اصلاح او بهتروالي تمرکز لري، د پوهنځي اوسنیو عیني معلوماتو او حقایقو پر بنسټ سپین غر د لوړو زده کړو پوهنځي د داخلي عواملو (Internal Factor Evaluation-IFE) ماترکس جمله نمرې (2.93) دي. دا په دې معنی ده چې د قوت او ضعف له نظره پوهنځی په ښه حالت کې قرار لري.

## Internal Factors Evaluation (IFE) Matrix

| م.ش | قوتونه Strengths | ارزښت | نمره | ضرب شوې جمله |
|---|---|---|---|---|
| 1 | په پوهنځي کې د استادانو او اداري کار کوونکو ترمنځ د تضمين کيفيت او اعتبار اخستنې معيارونو په هکله د عامه پوهاوي کچه | 0.05 | 4 | 0.2 |
| 2 | محصلينو ته د خدماتو د کيفيت لوړوالي لپاره د اړينو اسانتياو (لکه:لابراتوارونه، کتابتون، کمپيوټر ليب، درسي خونو) اندازه | 0.07 | 4 | 0.28 |
| 3 | د نظري او عملي تدريس کيفيت، د چارو څارنه او ارزونه | 0.09 | 4 | 0.36 |
| 4 | د محصلينو کلينيکي عملي کارونو لپاره د تدريسي او معالجوي روغتون د وارډونو ،ناروغانو او لابراتوارونوشمېر | 0.06 | 3 | 0.18 |
| 5 | د پوهنځي په اداري چارو کې د روڼتيا او عدالت اندازه | 0.04 | 4 | 0.16 |
| 6 | په پوهنځي کې د هر ډول اجراءاتو لپاره د طرزالعمل، پاليسی، ميکانيزم، پروسيجر شتون او تطبيق | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 7 | په پوهنځي کې د عملياتي، انکشافي او اصلاحي پلانونو د تطبيق کچه | 0.04 | 4 | 0.16 |
| 8 | په پوهنځي کې د اصلي او فرعي کمېټو د کړنو او فعاليتونو کيفيت | 0.07 | 4 | 0.28 |
| 9 | په پوهنځي کې د علمي نشراتي توکو کيفيت او اندازه | 0.03 | 3 | 0.09 |
| 10 | محصلينو، استادانو او اداري کار کوونکو ته د ظرفيتونو د لوړونې برنامې | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 11 | په تدريس او څېړنو کې د دايمي استادانو کاري تجربه او مسلکي پوهه | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 12 | د پوهنځي اړوند اداراتو تشکيل او خدماتو کيفيت | 0.05 | 4 | 0.20 |
| **م.ش** | **ضعفونه Weaknesses** | **ارزښت** | **نمره** | **ضرب شوې جمله** |
| 1 | په پوهنځي کي د دايمي ماستراو دکتور استادانو کچه | 0.05 | 2 | 0.10 |
| 2 | په پوهنځي کې د استادانو د علمي او څېړنېزو مقالو د چاپ اندازه | 0.05 | 2 | 0.1 |
| 3 | په پوهنځي کې د مسلکي اصلي او کومکي درسي کتابونو د چاپ اندازه | 0.03 | 2 | 0.06 |
| 4 | په پوهنځي کې په بهرنيو ژبو د نشر شويو علمي څېړنو کچه | 0.04 | 2 | 0.08 |
| 5 | په پوهنځي کې د مسلک اړوند د استادانو د چاپ شويو علمي تأليفاتو او ژباړو کچه | 0.05 | 1 | 0.05 |
| 6 | د پوهنځي استادانو او اداري مسؤولينو د نوښتونو او ابتکاراتو (Best Practices) کچه | 0.05 | 1 | 0.05 |
| 7 | د پوهنځي عمومي ډيپارټمنټ کې حد اقل د څلور علمي کادر غړو شتون | 0.05 | 2 | 0.1 |
| 8 | په ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې د استادانو د ګډون کچه | 0.03 | 1 | 0.03 |
| | **جمله نمرې** | **1.00** | | **2.93** |

## د بهرني محيط عواملو تحليل

د پوهنځي بهرني محيط په مطالعه کولو کې د پوهنځي د ستراتيژيک پلان فرعي کمېټې د هيواد د نفوس وده، د ختيځ زون په کچه د ۱۲م پاسانو او ۱۴م پاسانو ليوالتيا، د عامې روغتيار سکتور اړتياوې او لومړيتوبونه، په هيواد کې د تحصيلي ادارو شمېر او د طبي پوهنځيو د موجوده علمي برنامو د خدماتو کيفيت، په خصوصي تحصيلي ادارو کې په طبي برخو کې د فوق ليسانس برنامو اړتيا، اقتصادي او سياسي حالت، د الکترونيکي او ټکنالوژيکي وسائلو د کارولو وړتياوې، د لوړو زده کړو وزارت د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکونې رياست لخوا د برنامه يي اعتبار اخستنې په موخه د طبي ټکنالوژي پوهنځي او تدريسي روغتونونو لپاره ټاکل شوي نوي معيارونه او شاخصونه او داسې نور اړوند حقايق په پام کې نيول شوي دي.

د لوړو زده کړو وزارت لخوا په تحصيلي ادارو کې د څېړنې او تأليفاتو معاونيتونو ايجاد، د قوانينو تعديلات، خصوصي تحصيلي ادارو څخه د نظارت او ارزونې کيفيت، د داخلي تفتيش رياست لخوا د تقنيني سندونو له تطبيق څخه څارنه، د بهرنيو ذي نفعانو لخوا خصوصي تحصيلي ادارو سره کاري مشارکتونه، په هيواد کې فعاليت لرونکې نړيوالې ادارې او له هيواد څخه بهر تحصيلي ادارو، څېړنيزو مرکزونو او د اعتبار ورکونې اړوندو ادارو سره متقابلې کاري اړيکې په پام کې نيول شوي دي.په ټولنه کې په راتلونکو پنځو کلونو کې د وګړو اقتصادي وضعيت، په کار بازار کې د طبي ټکنالوژي پوهنځي فارغانو ته د دنده ايزو فرصتونو کچه او د مسلک اړونده تخصصاتو کې د فارغانو د بريا کچه او داسې نور اړوند حقايق چې د بهرني چاپيرپال اړوند دي، په پام کې نيول شوي دي.

د بهرني محيط چاپيريال په مطالعه کولو او نظر پوښتنه کې په ګوته شوي هغه فرصتونه چې له هغې څخه بايد مؤسسه په راتلونکو پنځو کلونو کې ګټه پورته کړي، په ياد ماترکس کې ذکر شوي دي. همدا راز، هغه تهديدات او باالقوه زيانونه چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د پوهنځي خدماتو، اعتبار او پرمختګ لپاره خنډ واقع کيدای شي په دې ماترکس کې ذکر شوي دي.دا ستراتيژيک پلان په داسې حال کې ترتيب شوی دی چې په هيواد کې د بهرني محيط اړوندو عواملو ثبات او بدلونونو تعين لپاره کومه اندازه شتون نه لري.

د ستراتيژيک پلان فرعي کمېټې د خپلې تجربې، مشاهدې او بصيرت له مخې د بهرنيو ځوابوونکو (ذي نفعانو، متخصصينو) د رايو او نظرونو پر بنسټ هغه ممکن او احتمالي خطرات درک کړي او په دې ماترکس کې ذکر کړي دي چې په متوسط يا لوړ احتمال سره د پوهنځي په خدماتو منفي تأثيرات لرلی شي.

په دې ماترکس کې له فرصتونو څخه د ګټه اخستنې او تهديداتو مخنيوي يا د هغې منفي تأثيراتو کموالي ارزښت ته په کتو په ماترکس کې نمرې ذکر شوي دي. په دې ماترکس کې د بهرنيو عواملو د نمرې کالم د پوهنځي لخوا له فرصت څخه د ګټه اخستې او د تهديد د مخنيوي د توان کچه ځرګندوي. که چېرې سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې طبي ټکنالوژي پوهنځي لپاره بهرنی فرصت استثنايي وي ۴ نمرې ورکړل شوي او که معمولي وي ۳ نمرې ورکړل شوي دي.

همدا راز، که چېرې د پوهنځي لپاره تهدید استثنايي وي ۱ نمره ورکړل شوې او که معمولي وي ۲ نمرې ورکړل شوي دي.

همدارزا، که چېرې پوهنځی له یوه فرصت څخه په مناسبه اندازه ګټه پورته کولای شي یا په مناسبه اندازه د یو تهدید مخه نیولی شي ۲ نمرې ورکړل شوي دي. د بهرني محیط په مقابل کې د کم توان درلودلو لپاره یوه نمره ورکړل شوې ده.

دا چې په بهرنیو عواملو کې ټولو فرصتونو څخه ګټه پورته کولو یا د ټولو تهدیداتو د جدیت کچه په یوه اندازه نه وي، د فرصتونو څخه د ګټه اخستنې او تهدیداتو د مخنیوي نسبي ارزښت په پام کې نیولو سره د جمله (۱,۰۰) څخه د ضریب نمرې ټاکل شوي دي. په دې توګه سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې، طبي ټکنالوژي پوهنځی د (EFE) ماتریکس جمله نمرې (2.67) دي چې تقریبا ښه حالت تمثیلوي.

**External Factors Evaluation (EFE) Matrix**

| ضرب شوې جمله | نمره | ارزښت | فرصتونه Opportunities | م.ش |
|---|---|---|---|---|
| 0.18 | 3 | 0.06 | په کلینیکي اوتشخیصي برخه کې د فارغانو د بوختیا (Practice) کچه | 1 |
| 0.24 | 3 | 0.08 | دطبي ټکنالوژي برنامې څخه د حکومت د ملاتړ کچه او په کلینیکي برخه کې همکارې | 2 |
| 0.15 | 3 | 0.05 | د دولتي او سکتوري اداراتو سره د ګډو همکاریو توامیتونو لاسلیک کول | 3 |
| 0.20 | 4 | 0.05 | د پوهنځي درسي نصاب او کاربازار ترمنځ د ورتوالي تناسب | 4 |
| 0.18 | 3 | 0.06 | خصوصي سکتور، ټولنه او اړوندو واکمنو دولتي ادارو کې د پوهنځي اعتبار او نیک شهرت | 5 |
| 0.20 | 3 | 0.05 | د اړوند مقاماتو له لورې د طبي ټکنالوژي پوهنځي استادانو ته د علمي رتبو ورکړه | 6 |
| 0.24 | 4 | 0.06 | په طبي ټکنالوژي پوهنځي کې د لوړو زده کړو وزارت اړوند قوانینو او مقرراتو تطبیق | 7 |
| 0.15 | 3 | 0.05 | د بشپړ اکاډمیک اعتبار له کبله د نویو علمي برنامو ایجاد | 8 |
| 0.18 | 3 | 0.06 | د پوهنځي انکشاف او درسې اسانتیاوې | 9 |
| 0.18 | 3 | 0.06 | د طبي ټکنالوژي پوهنځي فارغانو ته شته کاري فرصتونه | 10 |
| 0. 21 | 3 | 0.07 | د طبي ټکنالوژي پوهنځي د زده کړو کیفیت | 11 |
| 0.12 | 3 | 0.04 | د نورو تحصیلي اداراتو په پرتله د پوهنځي د استادانو او اداري کارکونکو د حقوقو او میاشتنیو مالي امتیازاتو کچه | 12 |
| **ضرب شوې جمله** | **نمره** | **ارزښت** | **تهدیدونه Threats** | **م.ش** |
| 0.07 | 1 | 0.07 | په هیواد کې د بې کارۍ او فقر کچه | 1 |
| 0.12 | 2 | 0.06 | د خصوصي تحصیلي ادارو ترمنځ د محصلینو جذب او تبدیلۍ په اړه نا سالم رقابتونه | 2 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 0.10 | 2 | 0.05 | په هیواد کې قومې او فکرې تعصب | 3 |
| 0.05 | 1 | 0.06 | د هیواد سیاسي وضعیت او ثبات | 4 |
| 0.10 | 1 | 0.07 | د ازموینې ملي اداري له خوا د خصوصي تحصیلي ادارو کانکور ازموینې اخیستل | 5 |
| 2.67 | | 1.00 | **جمله** | |

### د محیطي عواملو پرتله (مقایسه)

کله چې د پوهنځي داخلي چاپیریال او بهرنی چاپیریال مطالعه شول، داخلي محیط په مطلق ډول د قوت او ضعف له نظره او بهرنی محیط په نسبي توګه د فرصتونو او تهدیداتو له نظره د پلان د تدوین پر مهال په پام کې ونیول شول. پوهنځی یوازې د یو ماترکس له لارې نشي کولای احتمالي ممکنه ستراتیژیانې (Alternative Feasible Strategies) غوره یا تعین کړي. له دې کبله، د داخلي چاپیریال د مطالعې ماترکس جمله نمرې او د بهرني چاپیرال عواملو ماترکس جمله نمرې باید پرتله شي او د دې دواړو تقاطع چې په هره ساحه (Quadrant) یا (Profile) کې واقع شي، پوهنځي ته د ستراتیژیک لید په برخه کې لاره روښانه کیږي. دا ماترکس اصلا د محیطي عواملو له نظره د پوهنځي موقعیت څرګندوي.


### د محیطي عواملو (داخلي او خارجې) مقایسه

### د (IE) ماتریکس

د (IE) ماترکس جمله نهه (cells) لري. که چیرې د پوهنځي د داخلي محیط ماترکس او بهرني محیط ماترکس جمله نمرو د تقاطع نقطه په (3,5,7) cellsکې واقع شي پوهنځی باید د اوسني وضعیت د ساتنې (حفظ) او ثبات اړوند ستراتیژیانې غوره کړي. که چیرې د پوهنځي د داخلي محیط ماترکس او بهرني محیط ماترکس جمله نمرو تقاطع نقطه په (1,2,4) خانو کې واقع شي پوهنځی باید د رُشد او توسعې اړوند ستراتیژیانې غوره کړي.

که چیرې د پوهنځي د داخلي محیط ماترکس او بهرني محیط ماترکس جمله نمرو تقاطع نقطه په (6,8,9) خانو کې واقع شي پوهنځی باید دفاعي ستراتیژیانې غوره کړي.

د رُشد او توسعې اړوند ستراتیژیانو انتخاب لپاره اړینه ده چې اداره له داخلي پلوه د قوت ډیرې ساحې او برخې ولري تر څو دا ډول ستراتیژیانې تطبیق کړای شي. د ساتنې او ثبات لپاره د قوت او ضعف برخو معلوم تناسب اړین دی. کله چې د پوهنځي داخلي ضعف برخې نظر د قوت برخو ته ډیرې وي، امکانات یې ډېر محدود وي، تشکیلات او جوړښتونه یې نیمګړې وي، دا ډول تحصیلي اداره باید دفاعي ستراتیژیانې غوره کړي تر څو د پنځو کلونو په تیریدو سره د ستراتیژیک پلان د تطبیق له لارې د خپل قوت برخې زیاتې کړي او د ضعف برخې اصلاح کړي او بیا له هغې وروسته له دفاعي حالت څخه د ساتنې او ثبات حالت ته لاړه شي.




په (QSPM) ماترکس کې د ستراتيژيانو هغه لومړيتوبونه غوره شوي دي چې د تطبيق له کبله به يې دا پوهنځي پنځه کلونه وروسته د ثبات او ساتنې له حالت څخه د رشد او پرمختګ حالت ته لاړ شي او پورتني ماترکس کې به د تقاطع نقطه له کېڼ لوري څخه ښي لوري کې واقع شي.

### د (SWOT) ماتريکس

د هيواد په ډېرو تحصيلي ادارو کې د سوات تحليل يا (SWOT Analysis) هغه حالت ته ويل کيږي چې په هغې کې د ادارې د داخلي محيط او بهرني محيط عوامل لست شي. دا منطقي عمل نه دی او هېڅ پايله پرې نه مرتبيږي. په حقيقت کې هره تحصيلي اداره اړتيا لري ترڅو د داخلي محيط او بهرني محيط عوامل داسې پرتله کړي چې له يوه عامل څخه د بل لپاره ګټه پورته کړي. دا ماتکرس مونږ ته داسې ستراتيژيانې هم نه په ګوته کوي چې هغه د ستراتيژيانو د ډولونو يا نوعيتونو څخه وګڼل شي. د سوات تحليل د هغو عواملو تړوليزه پيژندنه ده چې د تحصيلي ادارې انتخاب شوې ستراتيژي بايد له هغې سره پوره همغږې او سازګاري ولري. د سوات ماترکس په مرسته بايد اداره د خپل قوت برخې حد اکثر ته ورسوي او د خپل ضعف برخې حد اقل ته ورسوي.


په سواټ ماترکس کې تحصيلي اداره داسې امريه کړنې په ګوته کوي چې د ستراتيژيک پلان د تطبيق پر مهال يې رعايت کړي او د پلان د تطبيق پر مهال ورته وخت په وخت کتنه وکړي. د ستراتيژيک پلان د تدوين په لاربنود کې د سوات ماترکس ستراتيژيانې په لاندې کټګوريو ويشل شوي دي:

1. **(SO) يا تهاجمي ستراتيژيانې:** اړتيا ده چې د پوهنځي د قوت برخې په داسې توګه وکارول شي چې له فرصتونو څخه اعظمي ګټه پورته شي.
2. **(WO) يا محافظه کاره ستراتيزيانې:** اړتيا ده چې له فرصتونو څخه د ضعف برخو په اصلاح او ښه والي کې ګټه پورته شي.

3. **(ST) یا رقابتي ستراتیژیانې:** اړتیا وي چې د قوت له برخو څخه داسې ګټه پورته شي چې د بهرنیو تهدیداتو مخنیوی پرې وشي یا د هغې منفي تأثیرات کم شي.

4. **(WT) یا تدافعي ستراتیژیانې:** د ضعف برخو شتون په صورت کې چې کله تهدید متوجه شي اړتیا وي چې دفاعي تکتیکونو څخه کار واخستل شي چې د ضعف له کبله پوهنځي ته د متوجه تهدیداتو منفي تأثیرات کم شي.

**د ستراتیژیک حالت تعیُن**




د پوهنځي سوات ماترکس په لاندې توګه ترتیب شوی دی. په دې ماترکس کې د داخلي چاپیریال او بهرني چاپیریال همغه عوامل ذکر شوي دي چې په (IFE) ماترکس او (EFE) ماترکس کې ذکر شوي وو. په دې ماترکس کې مونږ یو شمېر ستراتیژیکې پریکړې کوو چې د پلان د تطبیق پر مهال ورته رسیدګي وشي او په تطبیق کې رعایت شي.

| | **د قوت برخې(Strengths) :** | **د ضعف برخې(Weaknesses) :** |
|---|---|---|
| **داخلي عوامل** / **خارجي عوامل** | 1. په پوهنځي کې د استادانو او اداري کار کوونکو ترمنځ د تضمین کیفیت او اعتبار اخستنې معیارونو په هکله د عامه پوهاوي کچه<br>2. محصلینو ته د خدماتو د کیفیت لوړوالي لپاره د اړینو اسانتیاو (لکه:لابراتوارونه، کتابتون، کمپیوټر لیب، درسي خونو) اندازه<br>3. د نظري او عملي تدریس کیفیت، د چارو څارنه او ارزونه<br>4. د محصلینو کلینیکي عملي کارونو لپاره د تدریسي او معالجوي روغتون د واردونو ،ناروغانو او لابراتوارونوشمېر<br>5. د پوهنځي په اداري چارو کې د روڼتیا او | 1. په پوهنځي کې د دایمي ماستراو دکتور استادانو کچه<br>2. په پوهنځي کې د استادانو د علمي او څېړنېزو مقالو د چاپ اندازه<br>3. په پوهنځي کې د مسلکي اصلي او کومکي درسي کتابونو د چاپ اندازه<br>4. په پوهنځي کې په بهرنیو ژبو د نشر شویو علمي څېړنو کچه<br>5. په پوهنځي کې د مسلک اړوند د استادانو د چاپ شویو علمي تألیفاتو او ژباړو کچه<br>6. د پوهنځي استادانو او اداري مسؤولینو د نوښتونو او ابتکاراتو (Best Practices) |

| | | |
|---|---|---|
| | عدالت اندازه<br>6. په پوهنځي کې د هر ډول اجراءاتو لپاره د طرزالعمل، پالیسی، میکانیزم، پروسیجر شتون او تطبیق<br>7. په پوهنځي کې د عملیاتي، انکشافي او اصلاحي پلانونو د تطبیق کچه<br>8. په پوهنځي کې د اصلي او فرعي کمېټو د کړنو او فعالیتونو کیفیت<br>9. په پوهنځي کې د علمي نشراتي توکو کیفیت او اندازه<br>10. محصلینو، استادانو او اداري کار کوونکو ته د ظرفیتونو د لوړونې برنامې<br>11. په تدریس او څېړنو کې د دایمي استادانو کاري تجربه او مسلکي پوهه<br>12. د پوهنځي اړوند اداراتو تشکیل او خدماتو کیفیت | کچه<br>7. د پوهنځي عمومي ډیپارټمنټ کې حد اقل د څلور علمي کادر غړو شتون<br>8. په ملي او نړیوالو کنفرانسونو کې د استادانو د ګډون کچه |
| **فرصتونه (Opportunities)** | **تهاجمي وضعیت (SO)** | **محافظه کار وضعیت (WO)** |
| 1. په کلینیکي اوتشخیصي برخه کې د فارغانو د بوختیا (Practice) کچه<br>2. دطبي ټکنالوژي برنامې څخه د حکومت د ملاتړ کچه او په کلینیکي برخه کې همکارې<br>3. د دولتي او سکتوري اداراتو سره د ګډو همکاریو توامیتونو لاسلیک کول<br>4. د پوهنځي درسي نصاب او کاربازار ترمنځ د ورتوالي تناسب<br>5. خصوصي سکتور، ټولنه او اړوندو واکمنو دولتي ادارو کې د پوهنځي اعتبار او نیک شهرت<br>6. د اړوند مقاماتو له لوري د طبي ټکنالوژي پوهنځي استادانو ته د علمي رتبو ورکړه | 1. د (S3) څخه په استفادې له (O11) څخه ګټه پورته کول<br>2. د (S6) او (S5)په کارونې سره له (O12) ګټه پورته کول<br>3. د (S2)په کارونې سره له (O9) څخه ګټه اخیستل<br>4. د (S7) په پام کې نیولو سره له (O2) څخه ګټه پورته کول<br>5. د (S4) او (S2) په کارونې سره له (O1) څخه ګټه پورته کول<br>6. د (S11) په کارولو سره له (O6) څخه ګټه پورته کول<br>7. د (S1) په کارولو سره له (O8) څخه ګټه | 1. د (W3) ښه والي لپاره د (O4) څخه کار اخستل<br>2. د (W7) پوره کولو لپاره له (O2) او (O6)څخه ګټه اخستل<br>3. د (O3) څخه په استفادې په (W8) کې بهتروالي ته کار کول<br>4. (O12) څخه په استفادي (W6) کې بهتري رامنځته کول<br>5. له (O6) او (O12)څخه په ګټه اخستنې (W5) کې ښه والی رامنځته کول<br>6. د (O12)څخه په استفادي په (W1) کې بهتري رامنځته کول<br>7. د (O3) او (O12) څخه په استفادي د (W2) ښه والي لپاره |

| | | |
|---|---|---|
| 7. په طبي ټکنالوژي پوهنځي کې د لوړو زده کړو وزارت اړوند قوانینو او مقرراتو تطبیق<br>8. د بشپړ اکاډمیک اعتبار له کبله د نویو علمي برنامو ایجاد<br>9. د پوهنځي انکشاف او درسي اسانتیاوې<br>10. د طبي ټکنالوژي پوهنځي فارغانو ته شته کاري فرصتونه<br>11. د طبي ټکنالوژي پوهنځي د زده کړو کیفیت<br>12. د نورو تحصیلي اداراتو په پرتله د پوهنځي د استادانو او اداري کارکونکو د حقوقو او میاشتنیو مالي امتیازاتو کچه | پورته کول | |
| **تهدیدات(Threats):** | **رقابتي وضعیت (ST)** | **دفاعي وضعیت (WT)** |
| 1. په هیواد کې د بې کارۍ او فقر کچه<br>2. د خصوصي تحصیلي ادارو ترمنځ د محصلینو جذب او تبدیلي په اړه نا سالم رقابتونه<br>3. په هیواد کې قومې او فکري تعصب<br>4. د هیواد سیاسي وضعیت او ثبات<br>5. د ازموینې ملي اداري له خوا د خصوصي تحصیلي ادارو کانکور ازموینې اخیستل | 1. د (S11) پواسطه د (T4) منفي تأثیرات کمول<br>2. د (S5) او (S6) پواسطه د (T3) منفي تأثیرات کمول<br>3. د (S6) په مرسته د (T5) زیانونو کمول<br>4. د (S1) او (S6) په مرسته د (T2) زیانونه کمول | 1. د (T1) منفي تأثیراتو کموالي لپاره په (W1) کې بهتري رامنځته کول<br>2. په (W8) کې د ښه والي له لارې د (T3) منفي تأثیرات کمول<br>3. د (T2) منفي تآثیراتو کموالي لپاره په (W2) او (W3) کې ښه والي رامنځته کول |

## د ستراتيژيانو انتخاب

د محيطي عواملو مطالعه وروسته او د طبي ټکنالوژي پوهنځي په (IE) ماترکس کې مونږ ته ستراتيژيک ليد ( Strategic Direction) څرګند شو او د هغو ممکنو ستراتيژيانو په اړه چې پوهنځی د هغې له جملې يوه غوره کولای شي، معلومات وشول؛ اوس مونږ کولای شو هغه کړنلارې تعين کړو چې د هغې په کارولو سره پوهنځی اوږد مهاله اهداف ترلاسه کولی شي. دا کړنلارې به د پوهنځي، او ډ ېپارتمنت په کچه ټاکل کيږي.

**د کړنلارو نوعيت او موده په لاندې ډول ده:**

- د پوهنځي په کچه د کړنلارو موده به له درې څخه تر پنځو کلونو پورې وي

- د پوهنځي ، معاونيت او ډيپارټمنټ امريت په کچه د کړنلارو موده به له يو څخه تر درې کلونو پورې وي

- د مديريتونو په کچه کړنلارو موده به له يو څخه تر دوه کلونو پورې وي

څرنګه چې د مؤسسې لومړيتوبونه په پنځو لويو برخو ويشل شوي او له لسو څخه زياتو مواردو ته شامل دي، سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې طبي ټکنالوژي پوهنځی غواړي چې مؤسسې د ستراتيژيکو لومړيتوبونو، داخلي محيط او بهرنی محيط په اړه د اړوند شاملو خواو له نظرونو وروسته لاندې موارد تطبيق کړي او په دې برخه کې مشخصې لاسته راوړني او مثبت تغيرات ولري:

### 1. علمي څېړنې او تآليفاتو پراختيا

- د پوهنځي په کچه د علمي تحقيقاتو پراختيا
- د پوهنځي په کچه د علمي تأليفاتو او ژباړو پراختيا
- د څېړنيز مرکز پراختيا

### 2. د تحصيلي نصاب تدوين، تجديد، تطبيق او څارنه

- د تحصيلي نصاب  تدوين
- د تحصيلي نصاب بيا کتنه
- د تحصيلي نصابونو تطبيق
- د تحصيلي نصاب د تطبيق څخه څآرنه او ارزونه

### 3. د محصلينو د مهارتونو او ظرفيتونو لوړونه

- د محصلينو د مهارتونو لوړاوی
- د محصلينو د ظرفيتونو لوړاوی

### 4. د اداري او اکاډميکو کار کوونکو ظرفيت لوړونه

- د استادانو او اکاډميکو کار کوونکو  ظرفيتونو لوړونه
- د اداري کار کوونکو  ظرفيتونو لوړونه

**5. د معیاري زده کړو لپاره د اړینو اسانتیاو تهیه او پراختیا**

- د لابراتوارونو، انکشاف او پراختیا
- تدریسي خونو پراختیا
- څېړنېز مرکز تجهیز او پراختیا
- کتابتوتون او کمپیوټر لب تجهیز او پراختیا

**6. مالي سرچیني او عواید**

- د عوایدو زیاتوالی
- د لګښتونو کنټرول

**7. د معلوماتي ټکنالوژۍ پراختیا او کارونه**

- د (ERP) سستم بشپړ تطبیق
- د ټکنالوژیکي وسائلو کارونه

**8. د نویو ډیپارټمنټونو ایجاد**

- د نویو ډیپارټمنټونو ایجاد
- د نویو ډیپارټمنټونو پراختیا

**9. ټولنیز فعالیتونه**

- د ناروغیو تشخیص په اړه عامه پوهاوې
- د مماثلو ادارو سره د ګډو همکاریو تفاهم لیکونه

10. **په ملي او نړیواله کچه علمي فعالیتونو کې ونډه اخستنه**

- ملي ادارو سره د اړیکو پراختیا
- بهرنیو ادارو سره د اړیکو پراختیا

### لومړیتوب لرونکې ستراتیژیانې

پوهنځی د داخلي او بهرني چاپیریال ماترکس کې د مشخص شوی ستراتیژیک پروفایل په بنسټ، پنځه ستراتیژیانې پرتله کوي او ګوري چې له یادو ستراتیژیانو کومه یوه یې راتلونکو پنځو کلونو لپاره څومره د جذابیت جمله نمرې ترلاسه کوي او څویم قدم کې لومړیتوب لري.

هغه ستراتیژیانې چې پوهنځی یې باید لومړیتوب پر بنسټ په راتلونکو پنځو کلونو کې ترلاسه کولو لپاره کار وکړي په لاندې توګه ذکر شوي او مُحاسبه شوي دي:

1. په لومړي کالم کې د داخلي محیط عوامل (قوتونه، ضعفونه) او د بهرني محیط عوامل (فرصتونه، تهدیدات) باالترتیب ذکر شوي دي. دا عوامل همغه دي چې په (IFE) ماترکس او (EFE) ماترکس کې ذکر شوي دي.

2. هر ذکر شوي داخلي او بهرني عامل ته د ارزښت وزن یا ضریب ورکړل شوی دی. څرنګه چې د ستراتیژیک مدیریت غوښتنه ده، په دې ضریب کې د پلان او پالیسی فرعي کمېټې د خپلې تجربې، مشاهدې او درک څخه په استفادې اندازې تعین کړي دي. په داخلي او بهرني محیط کې د یو عامل د ارزښت کچه نظر بل عامل ته توپیر لري، د ټولو داخلي او بهرنیو عواملو د ارزښت کچه او تأثیرات یو شان نه وي.
3. په وروستیو کالمونو کې هغه ستراتیژیانې ذکر شوي دي چې پوهنځی یې باید د لومړیتوب نمرو په کتنه تطبیق ته کار وکړي.
4. د هرې ستراتیژۍ په مقابل کې د اړوند داخلي او بهرني عامل لپاره د جذابیت نمره تعین شوې ده. په بل عبارت، په ماترکس کې د ذکر شوې ستراتیژۍ لپاره د یو قوت ساتل څومره اړین دي، د یو ضعف اصلاح څومره اړینه ده، له یو فرصت څخه ګټه اخستنه څومره اړینه ده، د یو تهدید مخنیوي یا د هغې منفي تأثیرات کمول څومره اړین دي؛ په همدې اساس د لاندې ذکر شوي ترتیب له مخې د جذابیت نمرې ورکړل شوي دي:
   أ. لږ جذابیت
   ب. متوسط جذابیت
   ت. مناسب جذابیت
   ث. ډېر جذابیت
5. د هرې ستراتیژۍ لپاره د ارزښت نمرې د جذابیت نمرو سره ضرب شوي دي او په جلا کالم کې ذکر شوي دي. د همدې کالم جمله نمرې به د ستراتیژۍ حاصله نمرې ګڼل کیږي. هر څومره چې د یوې معلومې ستراتیژۍ په مقابل کې د یو عامل د جذابیت نمره ډېره وي، په همغه اندازه به د ارزښت او جذابیت د ضرب مجموعه ډېره وي.
6. په پورتني پنځم پړاو کې ذکر شوې پروسه د هرې ستراتیژۍ لپاره کارول کیږي او په پای کې د ټولو ستراتیژیانو جمله حاصله نمرې پرتله کیږي. په انفرادي توګه چې د هرې ستراتیژۍ جمله نمرې چې څومره ډېرې وې، د پوهنځي لپاره هغه ستراتیژي د نورو په نسبت ډېر او لوړ لومړیتوب لري.

### د ستراتیژیکو لومړیتوبونو تعین

وروسته له هغې چې د پوهنځي لپاره ستراتیژیک لومړیتوبونه معلوم شول، اوس پوهنځی باید د همغو لومړیتوبونو ترلاسه کولو لپاره داسې برنامې وټاکي چې په اوږد مهال کې یې په ترلاسه کولو سره ټاکل شوې ستراتیژیانې تحقق ومومي یا (Realize) شي. د پوهنځي د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ترلاسه کولو لپاره به له لاندې جدول څخه ګټه پورته کیږي:

| گڼه | ستراتیژیک لومړیتوب | ستراتیژي | برنامه |
| --- | --- | --- | --- |
| 1 | علمي څېړنو او تألیفاتو پراختیا | أ. د پوهنځي په کچه د علمي تحقیقاتو پراختیا<br>ب. د پوهنځي په کچه د علمي تألیفاتو او ژباړو پراختیا<br>ت. د څېړنيز مرکز پراختیا | • درسي کتابونو لیکنه او چاپ<br>• د علمي څېړنو لارښود (رهنمود) تطبیق<br>• علمي څېړنو ترسره کول او نشرول<br>• د څېړنې، تألیف او ژباړې معاونیت انکشافي پلان تطبیق کې ونډه اخستنه<br>• د مؤسسې علمي څېړنو د ملاتړ، کتنې او نشر پالیسي تطبیق کې ونډه اخستنه<br>• د نصاب اړوند په بهرنیو ژبو لیکل شویو کتابونو ژباړه او چاپ<br>• د علمي څېړنو په برخه کې د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونې پلان تطبیق<br>• د څېړنيز مرکز څخه ګټه اخستنه<br>• د اتم سمسترمحصلینو په مټ د معیاري پایلیکونو (مونوګرافونو) لیکنه، آو ځیني یې څېړنیزو پروژو ته بدلول |
| 2 | د تحصیلي نصاب تدوین، تجدید، تطبیق او څارنه | آ. د تحصیلي نصاب تدوین<br>ب. د تحصیلي نصاب بیا کتنه<br>ت. د تحصیلي نصابونو تطبیق<br>ث. د تحصیلي نصاب د تطبیق څخه څآرنه او ارزونه | • د تحصیلي نصاب فرعي کمیټه<br>• د تحصیلي نصاب د مهالني کولو اکشن پلان<br>• د تحصیلي نصاب بودیجي پلان<br>• د تطبیقاتو (عملي کارونو ) پلانونه<br>• د IAP پلانونو تطبیق<br>• د TIP پلانونو تطبیق |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | • د کلینیکي او لابراتوراي تطبیقاتو طرزالعمل<br>• د روغتون عملي کارونو اجرائیوي لارښود<br>• د تحصیلي نصابونو د تدوین او مهالني کولو لارښود |
| 3 | د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه | آ. د محصلینو د مهارتونو لوړاوی<br>ب. د محصلینو د ظرفیتونو لوړاوی | • محصلینو ته د کیفیت لوړاوې معیارونو تشریح سمینارونه<br>• محصلینو ته علمي څېړنو اړوند ظرفیت لوړونې برنامې<br>• د محصلینو ساحوي عملي کارونه<br>• د محصلینو رقابتي سیالۍ<br>• د معلوماتي او طبي ټکنالوژیکي وسایلو استعمال<br>• د محصلینو د ظرفیت لوړونې کلنۍ اکشن پلان<br>• د ظرفیت لوړونې برنامو د تطبیق طرزالعمل<br>• د محصلینو د مهارتونو او ظرفیت لوړونې برنامو اړتیا ارزونې پایلې |
| 4 | د اداري او اکاډمیکو کار کوونکو ظرفیت لوړونه | آ. د استادانو او اکاډمیکو کار کوونکو ظرفیتونو لوړونه<br>ب. د اداري کار کوونکو ظرفیتونو لوړونه | • استادانو او اکاډمیکو کارکونکو ته د کورس پالیسۍ ، انفرادي پلان او TIPپلانونو جوړولو روزنېزي برنامې<br>• استادانو او اکاډمیکو کارکونکو ته د کورس پالیسۍ ، انفرادي پلان او TIPپلانونو د تطبیق راپورونو جوړولو روزنېزي برنامې<br>• استادانو او اکاډمیکو کارکونکو ته د علمي څېړنو اړوند روزنېزي برنامې(اکشن پلان)<br>• د کیفیت لوړاوې معیارونو اړوند روزنېزې برنامې(اکشن پلان) |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | • استادانو او اکاډمیکو کارکونکو ته د تدریس کیفیت لوړاوي روزنېزي برنامې<br>• د برېښنايي سیستم څخه د ګټې اخستنې روزنېزي برنامې<br>• د اداري مراسلاتو او تحریراتو روزنېزي برنامې<br>• د پلان جوړونې او راپور لیکنې برنامې<br>• د لیکوالۍ او ژباړې په برخه کې د استادانو ظرفیت لوړونه |
| 5 | د معیاري زده کړو لپاره د اړینو اسانتیاو تهیه او پراختیا | آ. د لابراتوارونو، انکشاف او پراختیا<br>ب. تدریسي خونو پراختیا<br>ت. ښېرنېز مرکز تجهیز او پراختیا<br>ث. کتابتونونو او کمپیوټر لب تجهیز او پراختیا | • د تدریسي سهولتونو انکشافي پلان<br>• د جدیدالشمولانو شمیر پر بنست تدریسي اسانتیاوې<br>• د ښېرنېز مرکز وسایلو، موادو لست او خریداري<br>• د درسي او کمکي درسي کتابونو لست او خریداري<br>• د کمپیوټر لب وسایلو لست او خریداري |
| 6 | مالي سرچینې او عواید | آ. د عوایدو زیاتوالی<br>ب. د لګښتونو کنټرول | • نوي ډیپارټمنټونو ایجاد<br>• پروموشن اکشن پلان(محصلینو جذب زیاتوالي)<br>• مالي پلان مؤثر تطبیق<br>• اضافي نصابي برنامې<br>• د پوهنځي عملیاتي عادي لګښتونو کنټرول او کموالي<br>• د تدریسي روغتون لابراتوار ځانګې پراختیا |
| 7 | د معلوماتي ټکنالوژۍ او تدریسي سهولتونو پراختیا او کارونه | آ. د (ERP) سستم بشپړ تطبیق<br>ب.د ټکنالوژیکي وسائلو کارونه | • ERP سیستم ته د لوست توکو اپلوډ<br>• د (IT Manual) تطبیق کې ونډه اخستنه<br>• د برېښنايي زده کړو فرعي کمېټې کلنی پلان<br>• د درسي او کمکي درسي کتابونو لست او ERP سستم ته اپلوډ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | • بهرنيو مطبعو او څېړنيزو مرکزونو سره علمي سرچينو ته د لاس رسي په موخه قراردادونه لاسليکول<br>• د ادبي سرقت (Plagiarism ) سافټويرونو د کاروني روزنيزې برنامې<br>• د استادانو، اداري کار کوونکو او محصلينو د ظرفيت لوړونې پلان<br>• د مأخذ ليکنې لپاره د سافټويرونو د کاروني روزنيزې برنامې<br>• د څېړنې ډيټا تحليل لپاره د سافټويرونو د کاروني روزنيزې برنامې<br>• د پوهنځي لپاره الکترونيکي کتابتون فعالول<br>• د الکترونيکي کتابتون څخه د ګټې اخستنې او کاروني په موخه استادانو او محصلينو ته روزنيزې برنامې وړاندې کول |
| 8 | د نويو ډيپارټمنټونو ايجاد | آ. د نويو ډيپارټمنټونو ايجاد<br>ب. د نوي ډيپارټمنټونو پراختيا | • د ډيپارټمنټد ايجاد اړتيا ارزونه<br>• د نوي ديپارټمنت لپاره د نصاب تدوين اکشن پلان<br>• د کادري غړو او اداري کار کوونکو ګُمارنه<br>• د نويو ډيپارټمنټونو د پراختيا اکشن پلان جوړول او تطبيقول |
| 9 | ټولنيز فعاليتونه | آ. د ناروغيو تشخيص په اړه عامه پوهاوي<br>ب. د مماثلو ادارو سره د ګډو همکاريو تفاهم ليکونه | • په ټولنه کې د ناروغيو اپيډيمولوژي په اړه عامه پوهاوي برنامې<br>• په ټولنه کې د ناروغيو تشخيص په برخه کې د عامه پوهاوي کچې لوړول<br>• هر سمستر حد اقل دوه بې وزله محصلينو ته د معلوم طرزالعمل له مخې تخفيفونه اجراء کول<br>• د علمي څېړنو له لارې په ټولنه کې د طبي لابراتوار پروسيجرونو او ناروغيو تشخيص اړوند ستونزو موندل، حل |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | لاري او لاسته راغلي معلومات د ټولني سره شريکول<br>• د مخدره توکو سره د مبارزې او چاپيريال ساتنې اړوند فعاليتونو کې ونډه اخستل<br>• د ملي او بهرنيو مماثلو ادارو سره د ګډو همکاريو تفاهم ليکونه لاسليکول |
| 10 | په ملي، سيمه ايز او نړيواله کچه علمي فعاليتونو کې ونډه اخستنه | آ. ملي ادارو سره د اړيکو پراختيا<br>ب. بهرنيو ادارو سره د اړيکو پراختيا | • د مؤسسې علمي مجله کې د څيړنو نشرول<br>• ملي تحصيلي ادارو سره تفاهم ليکونه<br>• بهرنيو او سيمه ايزو ادارو سره تفاهم ليکونه<br>• د اعتبار اخستنې معيارونو تطبيق کول<br>• د صحت لارښود کتاب تدوين، چاپ او نشر اړوند چارو کې ونډه اخستل<br>• په ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې برخه اخستل؛<br>• د دوه نړيوالو ټولنو او ادارو څخه غړيتوب ترلاسه کول<br>• د حد اقل دوه ملي او يو نړيوالو بهرنيو تحصيلي ادارو څېړونکو سره په ګډه علمي څېړنې ترسره کول<br>• د مؤسسې بشپړ اکاډميک اعتبار ترلاسه کولو کې د طبي ټکنالوژي پوهنځي اړوند معيارونو تطبيق کول او ونډه اخستل<br>• د برنامه يي اعتبار معيارونو تطبيق ته کار کول |

**لنډمهاله اهداف**

د پنځه کلنو اهدافو څخه به پوهنځی په کلني ډول د ستراتیژیک پلان تطبیقي پلان لپاره اهداف او فعالیتونه ټاکي او په دوامدار ډول به یې تطبیقوي. د هر کال تطبیقي پلان له تطبیق څخه په ربعوار ډول نظارت ترسره کیږي او د تطبیقي پلان د تطبیق راپورونه به د پوهنځي او مؤسسې علمي شورا ته وړاندې کیږي. د همدغو لنډ مهاله اهدافو او فعالیتونو دوامدار ترسراوی به د دې سبب شي چې پنځه کاله وروسته به پوهنځي هغه ستراتیژیک حالت ته ورسیږي چې په دې پلان کې یې د عیني معلوماتو پر بنسټ ځان لپاره ټاکلی دي. لنډ مهاله اهداف هغه اهداف دي چې ترلاسه کول یې په حد اکثر ۱۸ میاشتو کې ممکن وي. د پوهنځي لوی لنډمهاله اهداف په لاندې ډول دي:

1. د تحصیلي نصاب اصلاح او تجدید نظر
2. علمي څېړنې او تآلیفاتو پراختیا
3. د استادانو او اکاډمیکو کارکونکو ظرفیت لوړونه
4. په علمي-څېړنیزه مجله کې د څېړنو نشرول
5. د مؤسسې بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کولو کې ونډه اخستنه
6. په ملي کچه د اړیکو پراختیا
7. د محصلینو عملي کارونو کیفیت لوړاوی
8. د لابراتوارونو تجهیز او پراختیا
9. د کتابتون او کمپیوټرلب پراختیا
10. د محصلینو ظرفیت لوړونه

**د عمل برنامه (عملیاتي پلانونه ۱۴۰۳-۱۴۰۷)**

طبي ټکنالوژي پوهنځی به د راتلونکو پنځو کلونو لپاره په لاندې توګه کلني اهدافو ترلاسه کولو لپاره کار کوي، د هر کال په هره ربعه کې به د ستراتیژیکو پلانونو له تطبیق څخه نظارت ترسره کیږي. د پنځو کلونو وړاندې د دوه نیمو کلونو بشپړتیا پر مهال به د ټول پلان د تطبیق کچه( سلنه) اندازه کیږي او د اړینو بهرنیو محیطي عواملو پر بنسټ به د پوهنځي هغه کلني اهداف مهالني کیږي چې تر دې دمه د پلان برخه نه وي او د راتلونکو پېښو او تغیراتو له کبله رامنځته کیږي.

د پوهنځي د دې ستراتیژیک پلان د تطبیق لپاره د عمل برنامې په توګه د پنځو کلونو عملیاتي پلانونه په لاندې توګه دي:

## پنځه کلنه بودیجه

طبي ټکنالوژي پوهنځي د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د دې پلان د تطبیق په موخه لاندې ذکر شوې بودیجه ترتیب او تائید کړې ده. یاده بودیجه د پوهنځي علمي شورا او مؤسسې علمي شورا لخوا تائید شوې ده. څرنګه چې د ستراتیژیک پلان په کلني فعالیتونو کې د بهرنیو عواملو له کبله تغیرات ممکن دي، په همدې توګه د بهرنیو عواملو له کبله په بودیجه کې هم تغیرات ممکن دي. دا تغیرات په کلني ډول د قانوني غوښتنو، سکتوري وضعیت او پوهنځي حالت ته په کتو واقع کیږي.

په پنځه کلنه بودیجه کې د پلان د تطبیق لپاره بشري، ټکنالوژیکي ، فزیکي او مالي سرچینې په پام کې نیول شوي دي. د محصلینو شمېر، فیسونو، توکو او خدماتو کې د نرخونو لوړوالی (انفلاسیون) په پام کې نیول شوي دي. د ستراتیژیک پلان د تطبیق پنځه کلنه بودیجه په لاندې توګه ده:

| ګڼه | ستراتیژیک هدف | کلونه | | | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | 1403 | 1404 | 1405 | 1406 | 1407 | |
| 1 | د تحصیلي نصابونو تدوین، تجدید، تطبیق او څارنه | 144000 | 168000 | 285500 | 124000 | 125000 | |
| 2 | د معیاري زده کړو لپاره د اړینو اسانتیاو تهیه او پراختیا | 1455000 | 0 | 0 | 0 | 0 | |
| 3 | علمي څېړنو او تألیفاتو پراختیا | 264875 | 533000 | 290000 | 408000 | 627000 | |
| 4 | په ملي او نړیواله کچه علمي فعالیتونو کې ونډه اخستنه | 125000 | 128000 | 118000 | 128000 | 326000 | |
| 5 | د اداري او اکاډمیکو کار کوونکو ظرفیت لوړونه | 38000 | 71000 | 48000 | 241000 | 48000 | |
| 6 | د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه | 90000 | 115000 | 110000 | 96000 | 130000 | |
| 7 | د معلوماتي ټکنالوژۍ او تدریسي سهولتونو پراختیا او کارونه | 143000 | 166000 | 103000 | 164000 | 233000 | |
| 8 | د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه | 310000 | 295000 | 325000 | 295000 | 355000 | |
| 9 | ټولنیز فعالیتونه | 45000 | 40000 | 40000 | 40000 | 60000 | |
| 10 | مالي سرچینې اوعواید | 80000 | 75000 | 168000 | 256000 | 186000 | |
| 11 | د نویو ډیپارټمنټونو ایجاد | 0 | 0 | 222000 | 100000 | 0 | |
| | **کلنی جمله بودیجه** | 2694875 | 1591000 | 1709500 | 1852000 | 2090000 | |
| | **د کلونو په تفکیک د بودیجې تخصیص** | 27% | 16% | 17% | 19% | 21% | |
| | **پنځه کلنه جمله بودیجه** | **9937375** | | | | | |

## د ستراتيژيانو اجراء

طبي ټکنالوژي پوهنځي د ستراتېژيانو د اجراء پر مهال لاندې څلور عمده برخو ته شامل دی:

أ. د ستراتيژيانو د اجراء لپاره زمينه سازي چې د لاندې کړنو څخه عبارت دی:
- ✓ د اړتيا او اهدافو پر بنسټ د پوهنځي په جوړښت او ساختار کې تغيرات رامنځته کول
- ✓ د بيروکراسۍ کموالي په موخه د مديريتي چارو او پروسيجرونو ښه والی او بهتروالی
- ✓ د پوهنځي مديريتي او رهبرۍ چارو په طرز کې ښه والی رامنځته کول

ب. اداري تشکيلاتو کې د اړتيا مطابق تغيرات او اصلاحات رامنځته کول
- ✓ د کاري حجم په تناسب د کار کوونکو په شمېر کې تغيرات رامنځته کول
- ✓ د نويو ډيپارتمنتونو ايجاد په صورت کې نوې ګُمارنې کول
- ✓ هغه کار کوونکي چې په لوړو شرايطو برابر نه وي، په لوړو شرايطو لرونکو کارکوونکو بدلول

ت. د پوهنځي د ستراتېژيانو عملي او پلي کول
- ✓ د اهدافو ترلاسه کولو لپاره پنځه کلنه کاري نقشه جوړول
- ✓ د ستراتيژيانو د اجراء لپاره د بوديجې اجراء او منابعو تخصيصول
- ✓ ټولې چارې د پوهنځي ستراتيژيکو لومړيتوبونو پر بنسټ عيارول

ث. په داخلي طرزالعملونو او پاليسانو کې تغيرات او بهبود
- ✓ د پوهنځي اړوند پاليسيانو او طرزالعملونو تجديد او تدوين

## د ستراتيژيانو ارزونه

د پوهنځي د ټولو چارو ستراتيژيک مديريت په درې عمده مرحلو کې ترسره کيږي:

1. د ستراتيژيک پلان د تدوين مرحله
2. د ستراتيژيک پلان د تطبيق مرحله
3. د ستراتيژيک پلان د ارزونې مرحله

په پورتنيو ټولو مراحلو کې د تطبيق مرحله ډېره پيچلې مرحله ده. د دې علت دا دی، چې د پلان له تائيد وروسته په بهرني محيط کې ممکن داسې تغيرات رامنځته شي چې د پوهنځي پر داخلي محيط تأثير لرونکي وي. د پوهنځي په داخلي محيط کې د کاري ټيم ټول غړي د ستراتيژيک پلان پر تطبيق مکلف کول، د اهدافو ترلاسه کولو لپاره اړينې سرچينې چمتو کول او په ټاکلو وختونو کې د ادارې اوږدمهاله اهداف ترلاسه کول ډېر دقت، قوي تعهد، مسلکي پوهې او کاري تجربې ته ډېره اړتيا لري. په همدې بنسټ، داسې يوه پروسه بايد ترسره شي چې له مخې يې د پلان د تطبيق کچه معلومه شي. دا پروسه د ستراتيژيک پلان له تطبيق څخه د ارزونې پروسه ده.

د پوهنځي د ستراتیژیک پلان تطبیق به په لاندې درې مراحلو کې ارزول کیږي:

1. په کلنی ډول د ستراتیژیک پلان د تطبیق ارزونه
2. دوه نیم کاله وروسته د ستراتیژیک پلان د تطبیق ارزونه
3. پنځه کاله وروسته د ستراتیژیک پلان د تطبیق ارزونه

په هر ځل ترسره شوې ارزونه کې په گوته شوې نیمگړتیاوې به د پوهنځي د پلان او پالیسی فرعي کمېټې او همدا راز د پوهنځي او مؤسسې علمي شورا غړو سره د رفع کولو په موخه شریکیږي.

د طبي ټکنالوژي پوهنځي د ستراتیژیک پلان له تطبیق څخه به د پوهنځي د پلان او پالیسی فرعي کمېټه به د لاندې چک لست پر بنسټ په سمستروار ډول څارنه ترسره کوي او د اصلاحي اقداماتو په موخه به د ترسره شوې څارنې راپور د پوهنځي او مؤسسې علمي شورا ته وړاندې کیږي:

| گڼه | ستراتیژیک هدف | فعالیت | ترسراوي کچه (٪) | پایلې/تأثیرات | د نه ترسراوي علتونه |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | | | | | |
| 2 | | | | | |
| 3 | | | | | |
| 4 | | | | | |
| 5 | | | | | |
| 6 | | | | | |
| 7 | | | | | |
| 8 | | | | | |
| 9 | | | | | |
| 10 | | | | | |